تر ټولو لوی ګناهونه: له الله سره شرک کول، د الله له مکر څخه بې پروا کېدل، د الله له رحمت څخه نا امیدي او د الله له هیلي او امید قطع کول.

عبد الله بن مسعود - رضي الله عنه - له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه وفرمایل: د کبیره ګناهونه تر ټولو لویه یې : د الله سره شرک کول، د الله له مکر څخه بې پروا کیدل، او د الله له رحمت څخه امید قطع کول، او د الله له رحمت څخه نا هیله کیدل.

[إسناد يې صحيح دی] [عبدالرزاق روایت کړی دی]

رسول الله - صلی الله علیه وسلم - پدې حدیث کې د هغه ګناهونو یادونه کړې چې له کبیره ګناهونو څخه ګڼل کیږي او هغه دا دي چې: د الله - پاک - سره په ربوبیت او عبادت کې شریک ونګرځول شي او په همدې یې پیل وکړ، ځکه چې دا تر ټولو لویه ګناه او له الله تعالی څخه د هیلې او امید پرې کول دي؛ او ځکه چې دا په الله تعالی بدګماني او د هغه د پراخه رحمت په اړه ناپوهي ده،او بنده د نعمتونو په ورکولو سره ځان له نیونې څخه ساتلی بولي تر دې چې په تدریجي توګه یې ناپام کې راونیسي. او پدې حدیث کې موخه د لویو ګناهونو د شمېر محدودول ندي کوم چې یاد شول، ځکه چې لوی ګناهونه زیات دي، بلکه موخه ترې د تر ټولو لویو ګناهونه څخه یادونه ده.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6049